

# د احد غزا

عبدالشکور اکبرزي

د احد غزا د هجرت په دریم کال کې پیښه شوه علت یې دا دی چې قریشو ته په بدر کې کوم مالي او ځاني تاوانونه رسیدلي ؤ غوښتل یې چې د مسلمانانو څخه د هغې غچ واخلي مشرکینو د بلې جګړې لپاره خپل تیاری ونیولو د دې هدف لپاره قریش ۳۰۰۰ تنه جنګیالي او ۱۷۰ تنو ښځو په شمول د جګړې لپاره د ابو سفیان په مشرۍ تیار کړل قریشو بیرغ چې طلحه د سپرو قوماندان خالد بن ولید او مرستیال یې عکرمه د ابو جهل ځوی ټاکل شوی ؤ کله چې حضرت محمد (ص) د قریشو د جګړې له تصمیم څخه خبر شو صحابه کرامو سره د اوږدو خبرو او مشورو څخه وروسته (۱۰۰۰) تنو مسلمانانو سره د احد غره په لور وخوځېدل خو په لاره کې (۳۰۰) تنه د عبدالله بن ابي سلول په لمسون له لارې څخه راوګرځېدل او (۷۰۰) تنه د احد میدان ته ورسیدل.

رسول اکرم (ص) حضرت عبدالله بن جبیر (رض) په مشرۍ (۵۰) تنه د غشي ویشتونکي د احد د غر په کنډو کې موظف کړه چې د مسلمانانو څارنه وکړي ترڅو دښمن په مسلمانانو د شالخوا برید ونه کړي او تر هغې به دغې ځای څارنه کوي ترڅو پورې چې مونږه ځواب نه وي درلیږلی او په هر حالات کې زمونږ د بریالیتوب یا ناکامۍ تروخت تاسو خپل ځای خوشي کوي د قریشو بیرغ چې طلحه لومړی کس ؤ چې د جګړې اور ته یې لمن ووهله په نوموړي قریش ډېر نازیدل دغه ملحد د حضرت ذبیر بن عوام لخوا ووژل شو حضرت محمد (ص) چې زبیر بن عوام (رض) دا میړانه ولېده د تکبیر نارې یې ووهلې د احد په ورځ حضرت محمد (ص) خپله توره ابودجانا (رض) ته ورکړه او هغې

په ډېره مېړانه دغه توره وکاروله ترڅو د ښځو په ګروپ برابر شو وغوښتل یې چې (هنده) د ابو سفیان میرمن ووژني ورته معلومه شوه چې ښځه ده بیا یې د هغې د وژلونه ډډه وکړه سمه جګړه روانه وه او قریش په تېښته مجبور شو او مسلمانان بریالي شو او د عنیمت په راټولو یې شروع وکړه کله چې غشو وشتونکو ولیدل چې مسلمانان غنیمت راټولوي د غر څخه ټول ابښکته شول او یوازې عبد الله بن جبیر (رض) په شمول ۱۰ تنه پاتې شول. په دغه وخت کې قریشو په غره کې د مسلمانانو شمېر کم ولیده نو د خالد بن ولید په مشرۍ یې په هغوی حمله وکړه. هغه لس کسان یې په شهادت ورسول او د شا لخوا یې په مسلمانانو حمله وکړه او جنګ بیا تود شو. آواز خپور شو چې حضرت محمد (ص) په شهادت رسیدلی دی. دغه اواز د مسلمانانو مورال کمزوری کړ. په داسې حال کې چې هغه حضرت مصعب بن عمیر رض په شهادت رسیدلای و څکه د هغې څېره هم د حضرت محمد (ص) څېرې مبارکې ته ورته وه. جنګ د پیغمبر (ص) خوا ته راورسید او حضرت ابو دجانه رض و چې حضرت محمد (ص) څخه یې دفاع کوله او غشي د حضرت ابو دجانه په شا لګیدل. بل ورسره حضرت سعد بن ابي وقاص (رض) و چې تقریباً هغه ورځ یې ۱۰۰۰ زر غشي ویشتلي و. په دې وخت کې یو تن په پیغمبر (ص) ګذار وکړ چې هغه مبارک ټپي شو او مبارک غاښ یې په شهادت ورسیده. مسلمانانو ته بیا اواز ورسیده چې پیغمبر (ص) ژوندی دی. ټول پرې راټول شول. بیا یې کامیابي د مسلمانانو په برخه شوه. په دې جګړه کې ۱۲ تنه قریش ووژل شو او ۷۰ تنه مسلمانان په شهادت ورسیدل. په شهیدانو کې د حضرت محمد (ص) تره همزه (رض) هغه شامل و چې هنده بنت عتبه یې سینه څیرې کړې وه او زړه مبارک یې ورته راویستی و او خوله یې پرې لګولې وه.

د احد په جګړه کې د ماتې اصلي علت د مسلمانانو بې احتیاطي وه څکه په دې جګړه کې الله جل جلاله لومړې بریالي کړه بیا د مسلمانانو د اشتباه په وجه بېرته الله جل جلاله د امتحان سره مخامخ کړه او هر مومن مسلمان ته پکار دي چې هیڅکله خپل الله (ج) له یاده ونه غورځوي او د هغه او د هغه د رسول (ص) د امر نافرماني ونه کړي څکه چې بریالیتوب او څواک د الله د لوري ټاکل کیږي.

په جنګ احد کې چې زخمي رسول دی
جنګ په لا اله الا الله دی

^^^